ليکوال: حاجي عبدالحکيم«حليمي»

صبر

ليکوال: حاجي عبدالحکيم«حليمي»

بسم الله الرحمن الرحيم

صبر

د کتاب ځانګړني:

- د کتاب نوم: صبر « د الهی نظام له عملیاتي جریان څخه تر عبادي مفهومه پوري»
- ټولوونکي او ژباړونکي: عبدالحکیم حلیمي.
- نیټه: د ۲۰۲۵م کال ۱۴۰۴ل
- کمپیوټري ټایپ: پخپله لیکوال.
- تصحیح: ن قرآن مل.
- خپرندوی: پخپله لیکوال.

اهداء

په نړۍ کې د لمړی انســـان (ادم ع) څخه تر اخري انســـان پوري، چې د مځکې پر مخ د مختلیفو مشـــکلاتو، ســـتونزو او کړاونو سره لاس او ګریوان ســـوئ دی او یا کیږي، د صـــبر کاسي یې پلاس کې نیولې، او په الهې کومک او مرســـتي سره و خپلو نهایې اهدافو ته تر یو لړعملیاتي جریاناتو تیرســـوي، او یا تیریږي. زما والدینو او ټولو صـــابرینو ته چې د اللهﷻ خوښـــیږي، اهداء کوم.
لوی رب العزت دی زموږ لـه ټولو سره، و نهـایي هـدف تـه د رسیدو لړۍ او صبر اسانه کړي...... امین یا رب العلمین.

په درنښت
حلیمي

لیک لړ

اهداء..ج
سریزه..ي
صبر د بریالیتوب ستره وسیله ده.................................. ن
مقدمه..- 1 -
دمشیت تعریف:...- 1 -
هدف:..- 1 -
۱,۱. د صبر لغوي تعریف. ....- 1 -
۱,۲. د صبر تعریف د احادیثو په رڼا کي:.........................- 2 -
د رسول الله ﷺ احادیث.......................................- 2 -
الف) صبر د روښنایي مثال لري...................................- 2 -
تشریح ....- 2 -
ب) څوک چي صبر غواړي، الله ﷻ صبر ورکړي.....................- 2 -
۱,۳. صبر د قرآن په رڼا کي. ....- 3 -
۱,۴. د صبر اهمیت په سنتو کي. ....- 3 -
۱,۵. د صبر اړتیا ....- 3 -
۲. د الله سبحانه وتعالی نظام د عملیاتي جریان (پراسیس) پر بنسټ..- 4 -

۲,۱. د الهي قدرت او حکمت ترمنځ توازن.......................... - 4 -

۲,۲. فطرت هم پرعملياتي جريان (پراسيس) ولاړ دی. .... - 5 -

۲,۳. د کن فيکون قاعده استثنا ده، عمومي قاعده نه ده................ - 5 -

۲,۴. د اسبابو نظام د ازمويني اوعقل لپاره دی......................... - 6 -

۲,۵. علم او پرمختګ تدريجاً حاصليږي. .... - 6 -

۲,۶. پايله: اللهﷻ د عملياتي جريانونوخالق دی...................... - 7 -

۳. صبر د انسان د اختيار په ساحه کي .... - 7 -

۳,۱. د فرعون ظلم او د صبر پيل.. - 7 -

۳,۲. د الهي عملياتي جريان (پراسيس) پيل – او د نجات نقشه. .... - 8 -

۳,۳. د افاتو تسلسل – .... - 8 -

۳,۵. پايله – د صبر قوت او د پراسيس برکت. .... - 9 -

۴. د صبر فلسفه د ژوند د ټولو برخو لپاره. .... - 10 -

۴,۱. صبر د تعليم او زده کړې په برخه کي. .... - 10 -

۴,۲. صبر په کا ر، تجارت، او روزګا رکي............................. - 11 -

۴,۳. صبر د ناروغۍ او روغتيا په برخه کي............................ - 11 -

۴,۴. صبر د ټولنيز ژوند په جوړښت کي............................... - 12 -

۴,۵. صبر: د اخلاقو، تواضع، او عفوی سرچينه ده. .... - 12 -

۴,۶. پايله: صبر د ژوند روح دی..................................... - 12 -

۵. د صبر فلسفه د انبیاء علیهم‌السلام په ژوند کي.....................- 13 -
۵,۱. نوح علیه‌السلام ، صبر د دعوت، علم، اوعملیاتي جریان (پراسیس). -
- 13
(الف) دعوت او نهیلي کیدونکي امت...................................- 13 -
(ب) د نوح علیه‌السلام دعا، د عملیاتي جریان (پراسیس) آغاز. ....- 14 -
(ج) د کښتۍ جوړولو مرحله ،علم، هنر، زغم........................- 14 -
(د) د سیلاب د راتګ نتیجه د عملیاتي جریان (پراسیس) وروسته. ..- 15 -
۵,۲. ابراهیم علیه‌السلام – د یقین، قربانۍ او دعا صبر. ....- 15 -
۵,۲,۱. د بت پرستۍ په ټولنه کي دعوت..............................- 16 -
۵,۲,۲. د اور ته غورځولو ازموینه. ....- 16 -
۵,۲,۳. د اولاد لپاره دعا، او د اوږده انتظار صبر. ....- 16 -
۵,۲,۴. د زوی قرباني ، د اطاعت او یقین لوړه مرتبه.....................- 17 -
۵,۲,۵. د کعبې جوړونه ، د عبادت او د صبر یو فزیکي عملیاتي جریان
(پراسیس)...- 17 -
۵,۲,۶. پایله – د صبر، یقین، او اطاعت امام. ....- 18 -
پایله: ....- 18 -
۵,۳. د یعقوب ع او یوسف علیه‌السلام صبر د فتنې، بې‌عدالتۍ او بریا
ترمنځ. ....- 18 -
۵,۳,۱. د ورونو حسد او څاه ته غورځول. ....- 19 -

۵,۳,۲. د مصر په بازار کي پلورل کيدل، غلامي او فتنه.............- 19 -
۵,۳,۳. بې گناه بندي، د وختونو صبر. ....- 20 -
۵,۳,۴. و قدرت ته رسيدل – صبر يی د عزت لامل وو. ....- 20 -
۵,۳,۵. پايله – صبر د فتح دروازه ده. ....- 21 -
د يعقوب ع او يوسف ع د صبر، حوصلې او استقامت مقايسه: .....- 21 -
لمړی: ....- 22 -
دوهم: ....- 22 -
صبر جميل څشی ته ويل کيږي؟ ....- 24 -
د مفسرينو نظرونه:...- 25 -
۵,۴. د ايوب عليه‌السلام صبر د جسمي، مالي، او کورنۍ ابتلاء په وړاندي...- 26 -
۵,۴,۱. د نعمتونو دوره، او ناڅاپي ازمويني. ....- 26 -
۵,۴,۲. د دعا او عاجزۍ مرحله. ....- 26 -
۵,۴,۳. الهي مداخله، او د شفا مرحله. ....- 27 -
۵,۴,۴. د صبر د مقام تصديق..- 27 -
پايله: ....- 27 -
۵,۵. محمد ﷺ د مکلفيت، هجرت، جهاد، او د امت لپاره صبر. ...- 28 -
۵,۵,۱. د دعوت لومړنۍ کلونه، پر لفظی آزارو صبر. ....- 28 -
۵,۵,۲. د طائف واقعه، پر فزيکي اذيت صبر. ....- 28 -

۵,۵,۳. د شعب ابی طالب محاصره، پر اقتصادي سختیو صبر. ....- 29 -
۵,۵,۴. د هجرت او مدینې جهادونه ،د امت ژغورنې لپاره صبر......- 29 -
۵,۵,۵. د امت لپاره دعا، ژړا، او صبر.................................- 29 -
۵,۵,۶. د فتح مکه ورځ ، د عفوه صبر..................................- 29 -
د پنځم فصل عمومي نتیجه:...- 30 -
۵,۶. د حدیبیې تړون د صبر، تسلیمۍ او سترې بریا تمهید. ....- 30 -
۵,۶,۱. د ظاهر له مخې امتیاز، خو باطن کې فتح. ....- 31 -
د تړون مهمې برخې: ....- 31 -
۵,۶,۲. د حدیبیې د تړون په برکت د مکې د فتح عملیاتي جریان
(پراسیس) فعال سو...- 31 -
۵,۶,۳. د حدیبیې تړون او د صبر ستر تمرین. ....- 32 -
پایله: ....- 32 -
۶. د صبر روحاني، اجتماعي او علمي تاثیرات........................- 32 -
۶,۱. د صبر روحاني تاثیرات. ....- 33 -
۶,۱,۱. د الله ﷻ سره اړیکه. ....- 33 -
۶,۱,۲. د روح ارامښت...- 34 -
۶,۱,۳. په دین کې ثبات. ....- 34 -
۶,۲. د صبر اجتماعي تاثیرات...- 34 -
۶,۲,۱. د ټولني همبستګي...- 34 -

۶,۲,۲. د اجتماعي ظلم سره مبارزه.................................- 35 -
۶,۲,۳. د اخوت او د سولې پراختیا. ....- 35 -
۶,۳. د صبر علمي تاثیرات...- 35 -
۶,۳,۱. د ذهني قوت زیاتوالی.......................................- 36 -
۶,۳,۲. د علمي پرمختګ لپاره تسلسل................................- 36 -
۶,۳,۳. د ستونزو د حلولو مهارت....................................- 36 -
۶,۴. نتیجه‌ګیری: ....- 36 -
۷. پایله او د صبر اهمیت...- 37 -
۷,۱. د صبر نه ختمېدونکي ځواک.....................................- 37 -
۷,۲. د صبر په پایله کي د کامیابۍ ترلاسه کول........................- 38 -
۷,۳. د صبر پایلې. ....- 38 -
۷,۴. د صبر لپاره عملي لارښوونې. ....- 38 -
۷,۵. پایله:دصبرد فلسفې ټولواړخونو ته ژوره پوهه. ....- 39 -
وروستۍ خبره: ....- 39 -
یادونه : ....- 39 -
د لیکوال لنډه پېژندنه: ....- 41 -
دینی زده کړي ....- 42 -
رسمي زده کړي: ....- 42 -

سریزه

عام خلګ ډېر کله د صبر کلیمه په انحرافي شکل د هرو هغو شرائطو د پاره کاروي، چي د مشکلاتو اوستونزو د حل لاره ور سره موجوده نه وي او د دوی وس او قدرت تمام سوئ وي.نو د بې وسۍ په وخت کې د صبر کولو توصیه کوي. که موږ ډېر ځیر سو صبر کول د عبادت د انواعو څخه یوه نوعه ده.
عام خلګ د عبادت کولو ډېر لوی او وسیع مفهوم یوازي په لمونځ،روژه، زکات اوحج کولو سره خلاصه کوي.د عبادت کولو انواع ډېر زیات دی چي یودمختلیفو او متعددوعباداتود جملې څخه صبر کول دی.د صبر له مفهوم څخه څشي استنباط کیږي؟

• په صبرکولو سره د الله ﷻ رضا حاصلیږي.
• په صـــبر کولو سره د اللهﷻ له خوا په امر کړل ســـوواجرا آتوو تطبیق ته تسلمیږو.
• د صـــبر په کولو سره د اللهﷻ د امر او هـداياتوو عملياتي جريان ته داخلېدل او نتيجې يا پايلې ته رســيدل راته روښـــانه کوي.
• د صبر په کولوسره د هدف د لاسته راوړلو د پاره د اللهﷻ و عملياتي جريان و اکمال ته منتظر کيږو.
• صـــبر په حقيقت کې مختليف مفاهيم افاده کوي چي يو د مفاهيمو څخه پراسيس يا عملياتي جريان دی.
که يوڅوک دعا کوي او اللهﷻ د هغه شـــخص دعا قبوله کړي، نو انســـان داسې فکر کوي چي فوراً دده غوښـــتنه بايد عملي سي،ځکه اللهﷻ پر هرڅه قدرت لري، نو بايد د ســوالګر غوښتنه په عين مقطع زماني کې برآورده سي.
مســـئله داسې نه ده، لکه موږ چي يې تحليلوو، او يا توقع لرو.
الله ســـبحانه وتعالی موجوده جهان د يو عملياتي جريان يا پراسيس له رويه خلق کړئ دی. مثلاً الله سبحانه و تعالی وموږ انسانانو ته معلومات راکوي چي ټوله شـمسي۔ نظام په ۶ ورځو کې خلق سوئ دی.
"إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ..."
او هم د اللهﷻ پـه نزد يوه ورځ زرکالـه ده، نو فکر کيږي چي دغه د اسمانو او مځکې پېدايښت ۶زره کاله وخت نيولی دی.
"وَإِنَّ يَوْمًا عِندَ رَبِّكَ كَأَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ"
آيا و اللهﷻ ته د دې شپږ ورځو وخت ته اړتيا وه؟
نه. هيڅکله نه !
الله تعالی هرڅه د«کن فيکون»په واسطه پېدا کولای سوای.

خو دا شــېږ ورځي د تقدير، تدبير، حكمت او ســبق لپاره وې، ترڅوانســـانان د كارونو په تدريج، ترتيب او فكرباندې پوه سي، يا په بل عبارت: اللهﷻ پخپل كامل قدرت ولى په يوه لحظه كي پېدا نكړل؟ د دې حكمت دادى چي موجوده جهان د يو پراسيس پر بنسټ خلق سوئ دى ، نو په جهان كي هر شى د پراسيس د مراحلو په تطبيق سره تر سره كيږي.

او د «كن فيكون» موضــوع په موجوده جهان كي د ګوتو په شــمار په خاصــو حالاتو كي عملى ســوئ دى. صرف يو څو مثالونه يې ستاسو د توجه د را اړولو د پاره وړاندي كوم.

مثال: د موسي ع تر بحر تيرېدل، او اوبه دوه ځايه كيدل او د او بو د تل حصه وچه مځكه جوړېدل.

بل مثال: پر ابراهيم ع باندي اور معتدیل كيدل.

بل مثال: و ابراهيم ع ته په زوړ والي (١٢٠) كلنى كي چي د اولاد پېداكول په طبى لحاظ ممكن نه دي ، اللهﷻ ابراهيم ع او ميرمن (ســـارا ته په ٩٠ كلنى كي) يې د «كن فيكون» پر بنسټ وو، و حمل اخستو ته مساعده كړه ، او د اسحاق ع په نامه د زوى پيغام يې حصـول كړ، كه نور هم متوجه سـو د حمل اخيستل د «كن فيكون» تر شرائطو لاندي وه، او د اولاد پېدا كيدوجريان يې د پروسيس تر اصولو لاندي تر سره سول.

قالُوا لا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلامٍ عَلِيمٍ... قالَ أَبَشَّرْتُمُونِي عَلَىٰ أَن مَّسَّنِيَ الْكِبَرُ

ژباړه: (ملائكو) وويل: مه بيريږه! موږ تا ته د يو پوه زوى زيرى دركوو... ابراهيم وويل: آيا تاســو ما ته زيرى راكوئ حال دا چيزړښت راباندې راغلى دى؟

بل مثال: و ذكريا ع ته د ډېر زوړ والي په عمركي چي د (٩٠ او ١٠٠ په عمر وو) د يحيې د زوى زيرى وركول ســو او

میرمن يې د عمران لور او د بی بی مریم خاله وه او عاقره یعني د زیږون هیڅکله نه وه) د الله ﷻ د «کن فیکون» پر بنسټ يې د حمل اخســـتو مرحله، چې د طب د علم په اســـاس ممکن نه دی، عملی کړل. او د زوی جوړېدل د مور په ګیډه کې د پراسیس د مرحلې په اســـاس یعني د معین وخت و تیرېدو ته د صـــبر و مرحلې ته ننوزي.

یا زَكَرِيَّا« إِنَّا نُبَشِّرُكَ بِغُلَامٍ اسْمُهُ يَحْيَىٰ»

زموږ دی پیاد وی چې،د موجوده مادي جهان په شرائطو کې د پراسیس اصول مطرح دی،یعني صبرکول دي.

د صبر کولو یو بل مفهوم دادی چې انسان د الله ﷻ لخوا د هر هدف د عملیاتي جریان لاندي نتظیمیږي او انســان و الله ﷻ ته د تسلیمۍ په منظور د روحي فشار او عقلي انزوا څخه راوزي او سـالم فکر کولای سي. که څوک صـبر په نظر کې و نه نیسيـ او هر څـه عـاجـل و غواړي چې د جهـانې عملیـاتي اجرااتو سره مغایرت لري ، او د غوښـتل سـوي واقعې د نه وقوع په صـورت حتماً د سـټریس، عصـبی امراضـو او روحي تشـویش سره مواجه کیږي، نو موږ وایو چې د هري غوښـتني او ځینو نا ببره واقعو پر وقوع صـــبر پکار دی ، چې هم عبادت دی ، اوهم د الله ﷻ و حکمت ته تســـلیمی او غاړه ایښـــودل دي او په عین وخت کې د دعا او غوښـــتني د و قوع احتمال موجود دی ، پداسي حال کي چي عملیاتي جریان و اکمال ته ورسیږي. یعني پراسـیس تکمیل او ختم سي. په دغه رساله کې د صبر په ارتباط ډېري اقتصـادي، اجتماعي، سـیاسي موضـوعاتی په مسـتند دول څیړل سـوي دي چې د علاقې وړ به مو وګرزي.

په درنښت

عبدالحکیم حلیمي.

د ۲۰۲۵م کال د اپریل ۸ مه ، نیویارک.

صبر د بریالیتوب ستره وسیله ده

په «مؤمن به» موارد و او عقائدو کې صبر د توحیدی یا پر یوه الله ﷻ د باور درلودلو لپاره دریېم فرعی معیاردی، دا معیار د العصر سورت په څلرم ایت کریمه کې تثبیت دی.

موږ چې د ژوندانه په محوطه کې پل ږدو، او بیا یې په دوام د خپل ژوندانه تر انجامه مخ په وړاندې ځو ټوله بریالیتوبونه په صبرکې نغښتي، چیرې چې صبر نه وي هلته به بریالیتوب نه وي او یا به هم نیمګړي بریا تر لاسه کیږي.

د انسـانی ژوندانه د تیرولو لپاره هر انسـان دنده لري چې په پوره دقت، حوصـله او د هدف د لاسـته راولو لپاره لاس په کارسي ترخوخپل مطلوب ټکي ته ځان ورسـوي، قران کریم، نبوی ﷺ سـیرت او سـنت موږ ته په همدې اسـاس د ژوند په ډیرو مواردو کې په صـبرکولو تو صـیه، او ددغو دوو منهجونو په

تعقیب مو د دین او مذهب مجتهد علماء او پوهان هم پیروي کولو ته هڅوي.
زما د پلارني ټبر اړوند یو نژدېدوست د اقتصاد او ټولنیزو چارو کارپوه حاجی عبدالحکیم «حلیمي» دغه کښل سوئ د «صبر» اړوند اثر مي د زیاتونو په ګینه د چاپ تر مخه تر لاسه کړ. په لېدو او لوستلو مي زړه روښانه او په نخوړ ډول مي د صبر اړوند ډېر هغه موارد او قرآنی ایتونه پکښې ـ و لېدل چي انسان ته د حوصلې ورکولو اړوند معلومات ورکوي د صبر اړوند دا کتاب تاسي درنو لوستونکو ته لاندي مدارک درکوي:
• په انساني ټولنه کې د صبر نقش او د هغه ارزښت څه دی؟
• په دی مو پوه کوي چي که موږ له حوصلې کاروا نخلو، له کوم سرنوشت سره به مخیږو ؟
• ایا، بې صبره ژوند د ټولنیز ثبات لپاره ممکن کیدای سي؟داسي او دې ته ورته نور سوالونه چي زموږ مخي ته راځي، موږ یې د قراني ایتونو، نبوي احادیثو په تفکیک سره ځانته د سرمشق په توګه ایږدو. د صبر د کلیمې د مفهوم د پیژندني او افاده کولو په مورد کې موږ ته څه پلاس راکوي چي د صبر سرچپه اړخ به موږ ناکامه کوي، مطلب ته مو نه رسوي اود دې خبری کره مصداق موږ ته د آدم (ع)، ملائیکواو شیطان د تکر ثبوتونه ښیي.
د دې کتاب اړوند که هرڅومره مکث وکړو بیا هم اړیږو چي د کتاب متن ته پام وکړو، د صبر د اهمیت، د استعمال موارد او د اسلام په دین کې د هغه په اهمیت نور هم پوه سو.
زه خپلی خبري همدلته را نغاړم، د کتاب درانه لیکوال «حلیمي صاحب» ته د داسي نورو رسالواو کتابو د لیکنی او

وړاندي کولو هیله لرم . قلم یې روان، فکر یې دقیق او ژوند یې د اسلام په مشعل کې همداسې روښانه غواړم.

په ادب او درنښت
ن قران مل
کندهار پوهنتون
علامه حبیبی کتابتون
۳۱ حمل ۱۴۰۴ لمریز

مقدمه

۱. صبر د انسان د ژوند یوه بنسټیزه ارزښتناکه قوه ده، چې نه یوازې د دین له نظره عبادت ګڼل کیږي، بلکې د فطرت د نظام سره هم ژوره رابطـه لري. د قرآن کریم، د رســـول الله ﷺ احادیثو، او د علماوو د اقوالو له مخې، صبر هغه وسیله ده چې بنده یې د خپل خالق له حکمت، قدرت، او مشیت سره همغږې کوي.

دمشـــیت تعریف: الهی قدرت دي چې د واقعاتو وقوع واقع کوي، یا یې د خپل حکمت او ارادی لمخی نه پیښوي.

صبر څه شی دی؟

آیا دا یوازې زغم دی؟ که د الله ﷻ د نظام سره د تعامل یوه فعاله پروسه ده؟

هدف: دا مقاله هڅه کوي د صــبر لغوي، شرعي، فلســفي، او علمي اړخونه وڅېړي، او د انبیاء کرامو له ژوند سره ربط ورکړي او تحلیل یې کړي، تر څو یو عام لوستونکي ته د صبر فلسـفه د ژوند د عملیاتي جریان (پراسیس) یوه برخه ور وپیژني، نه یوازې د بې‌وسۍ تعبیر.

۱/۱. د صبر لغوي تعریف.

"صَبَرَ – يَصْبِرُ – صَبْرًا":

په لغت کې د صبر معني: زغم، تحمل، ثبات، تمکين، نه تيښته کولو او نه شکايت کولوته ويل کيږي.

۱/۲. د صبر تعريف د احاديثو په رڼا کې:

د "صبر" فلسفې ته د احاديثو او دعلماوو و نظريا تو ته کتنه.

د رسول الله ﷺ احاديث.

رسول مقبول ﷺ هميشه و انسان ته د هرډول سختو شرائطو په درلودلو سره د صبر توصيه کړيده. د صبرکولو په جريان کې د ژوند شرائط تغيرمومی، او الله سبحانه و تعالی امتيازات او مکافات په مرور د زمان و منځ ته راولي

الف) صبر د روښنايي مثال لري

رسول الله ﷺ وفرمايل:
"وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ"
"او صبر رڼا ده."

تشريح :علما وايي، دا حديث ښيي چې صبر د سختيو په تيارو کې رڼا ده، و انسان ته لوري او هدف ورکوي، او دا يو مثبت، روښانه او الله ﷻ ته نژدې کوونکي عمل دی.

ب) څوک چې صبر غواړي، اللهﷻ صبر ورکړي.

رسول الله ﷺ وفرمايل:
"وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللَّهُ، وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ"

ژباړه : څوک چې هڅه وکړي او صبر وکړي، اللهﷻ به صبر ورکړي، او هيچا ته داسي غوره او پراخ نعمت نه دی

ورکړل سوی لکه صبر. علامه ابن القيم رحمه‌الله وايي: "الصبر هو حبس النفس عن الجزع، واللسـان عن الشـكوى، والجوارح عن لطم الخدود."

يعني: صـــبر دا دی چي انســـان ځان د زړه له ماتي، د ژبي له شکايت، او د غړو له غصي څخه منع کړي.

ابن فارس وايي: "الصبر: حبس النفس على ما تكره."

يعني: صـبر دا دی چي انسـان ځان پر هغه څه بند وسـاتي چي طبيعت اوذِهَن يې نه غواړي.

۱/۳. صبر د قرآن په رڼا کي.

صـــبر تر ۹۰ ځلـه ډېرپـه مختلفو صـــيغو سره پـه قرآن کريم کي ذکر سـوی. دا څرګندوي چي صـبر نه يوازي يو اخلاقي صفت دی، بلکي د الله ﷻ د نظام يوه مهمه قاعده ده.

"إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ"

ژباړه: بې‌شکه صابرانو ته به اجر بې حسابه ورکړل سي.

۱/۴. د صبر اهميت په سنتو کي.

رســول الله ﷺ فرمايي: "ما أعطي أحد عطاء خيرًا وأوســع من الصبر."

ژباړه : هېڅـا تـه د صـــبرڅخـه غوره او پراخ نعمت نـه دی ورکړل سوئ.

۱/۵. د صبر اړتيا

نه يوازي ديني، بلکي بشري اړتيا هم ده.

- د ژوند امتحانونه، ســـتونزي، انتظارونه، ناکامۍ، ناروغۍ او حتی خوښۍ صبر ته اړتيا لري.

- صبر د انسان د عقل، روح، او نفس تعادل ساتي.
- د صبر نه موجودیت انسان بي ثباته، غوصه ناکه او فکراً کمزوری کوي.

۲. د الله سبحانه وتعالی نظام د عملیاتي جریان (پراسیس) پر بنسټ.

څرنګه چي الله سبحانه وتعالی موجوده نړۍ شمسي نظام اوټوله کائنات په شپږو ورځو کي پیدا کړه، ایا اللهﷻ ته شپږ ورځي ضرورت وو؟
نه هیڅکله نه! الله سبحانه وتعالی و انسانانو ته ښيي چي هرڅه عاجل و نه غوښتل سي او وخت ورکول سی ،که څه هم د ډیرقوت درلوونکي یاست، نو و عملیاتي جریان ته منتظر اوسي .

۲/۱. د الهي قدرت او حکمت ترمنځ توازن.

اللهﷻ مطلق قادر دی. که وغواړي، هر څه کولی سي، هماغه لحظه، پرته له اسبابو. لکه څنګه چي قرآن فرمایي: "إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُن فَيَكُونُ"
ژباړه: بېشکه د هغه (الله ﷻ) امر دا دی، چي که څه وغواړي، نو ورته وایي "شه"، نو هماغه شېبه کیږي،خو سوال دا دی ولی اللهﷻ هر څه همداسي، بېله واسطی نه کوي؟
ولی حتمي اسباب، مراحل، انتظار، وخت، اوعملیاتي جریان (پراسیس) ته یې راجع کوي؟
ځواب یې: دا د الهي حکمت یوه مظاهره ده، نه د قدرت نیستي. (سبحان الله)

۲/۲. فطرت هم پر عملياتي جريان (پراسيس) ولاړ دی.

الف:د انسان پېدايښت د نطفې څخه تر انسانه پوري. "وَلَقَدْ خَلَقْنَا الإِنسَـانَ مِن سُـلَالَةٍ مِّن طِينِ * ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَّكِينِ..."
ژباړه: بېشـــکه موږ انســـان له خاورې جوړ کړي، بيا مو هغه نطفه کړه، او په خوندي ځای کې مو ځای پر ځای کړه...

- دا آيتونه د انسان تکويني مراحل تشريح کوي.
- اللهﷻ يو انســـان نه يوازې په يوه لحظه کې، بلکې د فزيکي، بيولوژيکي، روحاني، او زمانی عملياتي جريان (پراســيس) له لارې جوړوي.

ب) باران د وريځو، باد، تندر، برېښـــنا، او اوبو يو تنظيم دی.
"اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا..."
ژباړه: الله هغه ذات دی چې بادونه اســـتوی او اوريځې په حرکت راولی....

- باد راځي، وريځې خېژوي، برېښنا، تندر، او بيا اوبه اوروی.
- د يو څاڅکي باران لپاره يو بشپړ نظام ته اړتيا ده. دا د اسبابو يو ځنځير دی.

۲/۳. د کن فيکون قاعده استثنا ده، عمومي قاعده نه ده.

کن فيکون په خاصو مواردو کې تطبيق سوي، لکه:

- و ادم ع ته د خبرو او د شيانو د نومونو ښودل.
- پر ابراهيم عليه‌السلام د اورمعتديل يخېدل.
- د اسمعيل ع د ذبح کولو په لحظه کې د پسه موجوديت.
- د اصحاب کهف خوب.

• د عزیر ع خوب.
• د موسی ع او بنی اسرائیل د بحر څخه د تیریدو پخاطر، د بحر اوبه دوه ځایه کیدل، په بحر کی کوڅه جوړیدل، د بحر مځکه وچه ښکاریدل.
• د عیسيٰ علیه السلام پېدایښت.
• د عیسي علیه السلام اسمان ته پورته کېدل.
• او د اخرت پیښې. دا استثنایي حالات دي چې د عادي بشر وادراک ته نه راځي.

حقیقت دا دی:په دې نړۍ کې الله ﷻ اکثر کارونه په تدریجی ډول، داسبابو پواسطه او عملیاتي جریان (پراسیس) له لاري پر مخ وړي.

۲,۴. د اسبابو نظام د ازمویني او عقل لپاره دی.

"الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ لِيَبْلُوَكُمْ..."

ژباړه: هغه (الله ﷻ) چې مرګ او ژوند يې پېدا کړل، تر څو تاسو وازمويي چې څوک غوره عمل کوي...

• انسان ته عقل، اختیار، وس، هڅه، او ادعا ورکړل سوې، خو نتیجه یې په عملیاتي جریان (پراسیس) پورې تړلې ده.

۲/۵. علم او پرمختګ تدریجاً حاصلیږي.

"خَلَقَ الْإِنسَانَ * عَلَّمَهُ الْبَيَانَ"

ژباړه : هغه انسان جوړ کړ. هغه ته يې «خبری» ور وښودی.
• انسان ته بیان، شعور، او تدریجي زده کړه ورکړل سوه.
• انسان په یوه ورځ کې نه عالم کیږي، بلکې زده کړه کوي، تېروتنه کوي، اصلاحات راولی، او بیا پرمختګ کوي. دا هم یو

عملياتي جريان (پراسيس) دی، او دا عملياتي جريان (پراسيس) د اللهﷻ له نظام سره همغږي ده.

۲/۶. پايله: اللهﷻ د عملياتي جريانونوخالق دی.

• د وخت، صـــبر، هڅې، او اســـبابو همغږي دا ټول د ربوبيت ښکلا ده.
• انســـــان بايد په دې عملياتي جرياناتو باور ولري، نه دا چې يوازې معجزې ته سترګې نيسي.

۳. صبر د انسان د اختيار په ساحه کې .

د موسي عليه السلام د قوم بيلګه او مثال:
هو انســـان يو مختار او د کاملی ارادی او اختيارخښـــتن دی . د صـــبر کولو او نه کولواختيار لري. خصــوصـــاً په هغه مواردو کې چې دده په کنترول کې وی. که د صبرکولو څخه کار واخلی او په کامله حوصـــله او مشـــوره کړنی وکړي، پايلی به يې مثبتې وی او که د عجلی څخه کار واخلی، ډېر امکان لري چې فيصـــــله يې خرابه او د منفی پايلو سره ملګری وی.

۳/۱. د فرعون ظلم او د صبر پيل.

“إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِـــيَعًا، يَسْـــتَضْـــعِفُ طَائِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءهُمْ...”
ژباړه: بېشـکه فرعون په ځمکه کې سرکښ سـوئ وو ، خلکو ته يې طبقې جوړې کړې وې، يوه طبقــهيې کمزوري کړه، زامنيې حلالول، ښځيې ژوندۍ پرېښودې...
• دا آيت د ظلم تر ټولو درنه کچه بيانوي د نسل قتل عام.

• بنی‌اسرائیل د اوږدې مودې (۴۰ کالو) لپاره زغم، صـــبر، عاجزي، او امېد ته اړ سول.

۳/۲. د الهي عملیاتي جریان (پراسیس) پیل – او د نجات نقشه.

د الله ﷻ د رحمت یوه منظمه مرحله پیل سوه:

۱. د موسي علیه‌السلام پېدایښت:

"وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ..."

دموسي مور ته مو وحی وسوه چي کوچني ته شیدې ورکه ،مه وېرېږه...

دا لومړی تسکینه ده، او دا خپله صبر ته چمتووالی دی.

۲. دښمن په ماڼۍ کي روزنه:

"فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ..."

ژباړه: د فرعون کورنۍ هغه (موسيٰ علیه السـلام) د اوبو څخه را وایستی....

و موسی علیه السـلام ته د مور لخوا په شـیدې ورکولو سره د زوی او مور روحاني او فزیکي ارتباط قائم سو، هلته الله ﷻ ورته یو خاص مقام چمتو کړ. دا یو "الهی پلان" و.

۳. له مصر نه وتل، مدین ته هجرت، او د پیغمبرۍ انتظار:

– د یوه قتل له امله یې مصر.پرېښود، لس کاله د شعیب علیه السلام په خدمت کي و، بیا الله ﷻ هغه چمتو کړ، وی روزی، او را وایې ستاوه.

۴. د پیغمبرۍ مسؤولیت او مقابلې د مرحلې پیل:

"اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَىٰ"

ژباړه: فرعون ته ورسه او هغه یاغی سوئ دی.

۳,۳. د افاتو تسلسل – فرعون ته فرصت، قوم ته صبر.

فرعون د موسي علیه‌السلام دعوت رد کړ، نو الله‌ﷻ متنوع (جریانی پراسیسي) عذابونه نازل کړل:

- طوفان
- ملخان (جراد)
- شپږې (قُمّل)
- چنګښې (ضفادع)
- وینه (دم)

"فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الطُّوفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ..."

ژباړه: دوی ته مو طوفان د ملخانو، شپږو، چنګښو او وینو واستول.

- دا ټول عذابونه یو پرله پسې مرحلې دی، چې الله‌ﷻ د دعوت او عبرت لپاره پر فرعونیانو راوستل.
- بنی‌اسرائیل ته دا هر څه د صبر امتحان و، ځکه چې دوی لا هم د خلاصون انتظار کاوه.

۳/۴. د نجات وروستۍ مرحله – په بحر کې لار جوړېدل.

"فَأَوحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ..."

ژباړه: الله موسي علیه‌السلام ته امر وکړ، بحر په لکړه ووهه، قوم يې ووت، فرعونيان يې غرق کړل.

دفرعون د غرقیدو پړاو د عملیاتي جریان (پراسیس) وروستۍ ګام و. فرعون نه په اول عذاب غرق سو، نه په دویم، بلکې دا ټول مراحل طی سوئ، تر څو د رب رحمت او قهر پر خپل وخت تر سره سي.

۳/۵. پایله – د صبر قوت او د پراسیس برکت.

- بنی‌اسرائیل يې وسه وه، خو د صبر، انتظار، او د دُعا له لاري الله‌ﷻ هغوی پیاوړي، خپلواک، او عبرت ناک قوم کړ.

• موسي علیه‌السلام ته وخت ورکړل سو، وروزل سو، او د خپل امت لپاره د نجات وسیله وګرځېدی.
نو دا قصه د موسي علیه‌السلام ژوند د صبر، پراسیس، ازمويني، او نجات یوه بشپړه نقشه ده.

۴. د صبر فلسفه د ژوند د ټولو برخو لپاره.

زموږ دي پیاد وي چي ژوند مختلیفی برخي او مرحلي لري او هره برخه د بلي برخي سره تفاوت لري. مثلاً د ځوانۍ مرحله ا و د زړښت مرحله د کامیابۍ او یا ناکامۍ برخه. د ژوند د هري برخي په جریان کي صبر او استقامت پکاردی، چي د حوصلی له لاري هوښیارانه تصمیم ونیول سي .
بل مثال: په سوداګرۍ او اقتصادي معاملاتو کي انتظار کول، د متخصص مشوره اخیستل، او د مارکیټ و نوساناتو او پراسیس ته صبر کول، د مارکیټ تحلیل او د احصائیوی ارقامو څخه استفاده کول، د تاوان او ضرر څخه ځان ژغورل صبر غواړي...
بل مثال: د کورنۍ په جوړولو کي د صبر څخه کار اخیستل ترڅو مناسب د ژوند ملګرى انتخاب کړل سي، او د کورنۍ په انکشاف کي د صبرکولو څخه استفاده وسي.... او نور مثالونه

۴/۱. صبر د تعلیم او زده کړې په برخه کي.

علم نه په یوه شپه کي راځي، د علم په رابطه یو شاعر وايي:
«که د علم پیدایښت په تمنا وای
د نغري پر غاړه هر یو به دانا وای»

علم نه په دعا او نه په تمنا تر لاســـه کيږي , دا يوعملياتي جريان (پراسيس) دی چې:

- هڅه، تمرين، خطاء، اصلاح، بيا دوام غواړي.
- صبر دلته د دوام رمز دی.

"وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا"

ژباړه: ووايه: «ربه! زما علم ډېر کړه.»

– دا دعا خپله دعملياتي جريان (پراسيس) د منلو غوښتنه ده.

مثال: يوه کوچنۍ د الفبا له زده کړي څخه تر پوهنتونه پوري کلونه صبر ته اړتيا لري.

۴/۲. صبر په کا ر، تجارت، او روزګا رکي.

کار، سرمايه، نوښـــت، يا تجارت يو دم نه غوړيږي. وخت ته اړتيا لري:

- ستراتيژي، تجربه، ناکامي، بازار پېژندنه، او دوام ته.
- ډېر کســـان ناکاميږي، ځکه چي دوی د پايلو په تمه، خو د صبر وس نه لري. "وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ..."

ژباړه: صـبر وکړه، او ســتا صـبر خو د الله ﷻ (له مرســته) پرته نسي کيدای.

۴/۳. صبر د ناروغۍ او روغتيا په برخه کي.

جســـماني يا ذهني دردونه، جراحي، درملنه، او بيا رغونه ټول وخت غواړي.

عن النبي ﷺ قال: "مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبِ، وَلَا وَصَبِ... إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ."

ژباړه: پر مسلمان چي هر ډول تکليف راځي... الله تعالی د هغه په واسطه ګناهونه وربخښي

د ګناهونو د بخښـــلوعملياتي جريان (پراســـيس) د مريضۍ مراحلې دي.
– دا صـبر يوازې تکليف نه، بلکې د روحاني پاکوالي وسـيله هم ده.

۴/۴. صبر د ټولنيز ژوند په جوړښت کې.

• پـه کورنۍ، ازدواج، اولادونو، او اجتمـاع کې لـه مشـــکلاتو تېرېدل، تفاهم، او تلوسه – دا ټول صبر غواړي.
• که صبر نه وي، ټولنيز نظام ګډوډېږي.
مثال:مور د کوچني د چيغو زغمل، پلار د فقر پر وړاندې کار ته دوام ورکول – دا ټول د صبر ښکلې مظاهر دي.

۴/۵. صبر: د اخلاقو، تواضع، او عفوې سرچينه ده.

"وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ"
ژباړه: څوک چې صـــبر وکړي او بخښـــنه وکړي، دا له عظيمو کارونو څخه دی.
– صـــبر د کينې، بدلې، او انتقام پر ځای انســـاني اخلاقو ته دعوت ورکوي.

۴/۶. پايله: صبر د ژوند روح دی.

هره انســـاني هڅه، پرمختګ، اړيکه، يا امېد د صـــبر نه پرته نيمګړې وي. صبر يو عملياتي جريان (پراسيس) ته وفاداري ده، يو ذهني انضباط، يو روحاني قوت، او يو انساني تعادل دی.

۵. د صبر فلسفه د انبیاء علیهم‌السلام په ژوند کي.

ټوله انبیا او پیغمبران علیهم السـلام د الله ﷻ و لارښــوونو ته انتظاراو صبرکوي تر څو لازم هدایات او لارښونی ورته وحی کړل سي. د پیغمبرانو ژوند ټوله پر صبر او د الله ﷻ پرعملیاتي جریان (پراســیس) ولاړ دی. کلـه کلـه د یوی خـاصی موضــوع پـه ارتبـاط، د الله ﷻ د رهنمـایي اوهـدایـت د پـاره ډېروخـت صــبرکوي، عاجل تصـمیم نه نیسيـ. څکه پایله يې تل مثبته او کامیابه وی، او که د الله ﷻ و هدایت او لارښــونی ته صـــبر و نکړي، او پخپله تصـمیم ونیسيـ، پایله يې منفی وی لکه ادریس ع اویونس ع او همداسي نور مثالونه...

۵/۱. نوح علیه‌السلام ، صبر د دعوت، علم، او عملیاتي جریان (پراسیس)

تر ټولو ژور مثال:نوح علیه‌السـلام ، د صبر او پراسـیس مکمل مکتب.

(الف) دعوت او نهیلي کیدونکي امت.

“وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا...”

ژباړه: او موږ نوح خپل قوم ته واستاوه، نو هغه په دوی کې زر کاله پاتې شو، خو له دې پنځوس کاله کم.

یادونه : زر قمری کلونه تقریباً ۹۵۰ شمسي کلونه کیږي.

- دا آیت د صــبر ژور پیغام لري؛ نه یوازي صــبر، بلکي امېد، وفاداري، او اوږد زغم.

• د دعوت مرحله خپله یوعملیاتي جریان (پراســـیس) و، الله ﷻ ونه غوښتل چي یو دم نتیجه ورکړي، بلکي انسـانیت ته یې یوه نمونه وړاندي کړه.
– د دې ۹۵۰ کلونو په اوږدو کي نوح علیه الســلام بې وقفې، د ورځي او شـپې دعوت کاوه، خو خلګو انکار کاوه. – دا د عملیاتي جریان (پراسیس) اوږدوالی او د صبر لوړه درجه ده.

(ب) د نوح علیه‌السلام دعا، د عملیاتي جریان (پراسیس) آغاز.

نوح علیـه‌الســـلام دعـا وکړه: " رَبِّ لَا تَـذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا "
ژباړه: ای زما ربه! په ځمکه د کافرانو څخه هیڅ انسان ژوندی مه پرېږده.
• د غه دعا د الهي تصمیم سره یوه مرحله پیل کړه، خو الله ﷻ ســـمدلاســـه تصـــمیم عملی نکړ، بلکي دعا یې وعملیاتي جریان (پراسیس) ته داخله کړه.

(ج) د کښتی جوړولو مرحله ،علم، هنر، زغم

"وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا..."
ژباړه: او ته زموږ تر نظارت لاندي، او زموږ د وحي په رڼا کي کښتۍ جوړه کړه...
• کښـتۍ یو دم جوړه نه سـوه، درختـه شـنه سـوه او سـلهاوو کلونـه یې و نیول چي لویـه ســـوه، تختې تختې تختې تختې اره ســوې، وچې ســوې، منظمې ســوې، د لرګیو څخه جوړ ســوي میخونـه پر ووهـل ســـول ... دا ټول یو دقیق الهی مهـارت او تخنیکي پروســه وه چي سـلهاوو سـلهاوو کلونه وخت یې ونیوئ.

ځني د قران کريم تفســيروونکي وايي چي د کښــتی جوړښــت تر ۱۲۰ کالو زيات وخت و نيوی.

• دا ښـيي چي اللهﷻ نوح ع ته نه يوازي صـبر ورکړ، بلکې زده کړه، فکر، انجنيري، او تخنيک يې هم ورکړ.

(د) د سيلاب د راتګ نتيجه د عملياتي جريان (پراسيس) وروسته.

• کله چي هر څه بشپړ سول، بيا اللهﷻ وفرمايل:
"فَفَجَّرْنَا ٱلنَّهَرَ وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ..."
ژباړه: موږ چيني راو ايستلې، او تنور بهېدل پيل سول...

• دا ښـيي چي نتيجه هغه وخت راځي، کله چي عملياتي جريان (پراسـيس) پوره سي ، نه مخکې، نه وروسـته. نوح عليه السـلام چي د اللهﷻ يـو لـه اولـوالـعـزم پـيـغـمـبرانـو څـخـه و، او د انســانيت تاريخ د صــبر يو عالي ســمبول دی. دلته موږ يو مصـــداق غوندي مثال ګرځولئ دی. دا هماغه وخت و، چي د صــبر فلســفه د عمل په ډګر کي څرګنده وه: موږ د نوح (ع) د ژوند له مثاله دا فورمول واخيست :

صبر + عمل + اعتماد پر اللهﷻ = نجات

۵/۲. ابراهيم عليه‌السلام – د يقين، قربانۍ او دعا صبر.

ابراهيم عليه السلام ته د صبر فلسفه د ايمان او يقين سره مل وه. د هغه ژوند د الله ﷻ د امتحانونو، هجرت، قربانۍ او اوږدو دعاوو څخه ډک وو.

۵/۲/۱. د بت پرستۍ په ټولنه کي دعوت.

– ابراهیم علیه‌الســلام د یوه داسي قوم سره مخ و چي بتان يي لمانځل او پلار يي هم له همدې خلګو څخه وو.
"إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِيٓ أَنتُمْ لَهَا عَٰكِفُونَ"
ژباړه: کله چي يې پلار اوقوم ته وويل چي «دغه بې روحه شيان څشی دی چي عبادت يې کوي؟»
– دا دعوت د شــدید مخالفت او اخراج لامل ســو، خو هغه صبر وکړ.

۵/۲/۲. د اور ته غورځولو ازموينه.

ابراهیم علیه‌الســـلام بتان مات کړل، او د هغه وخت پاچا (نمرود) هغـه اور تـه وغورځـاوه. "قَـالُواْ حَرِّقُوهُ وَٱنصُرُـوٓاْ ءَالِهَتَكُمْ..."
ژباړه: دوی وويل چي دی وســـوځوئ او د خپلو خدايانو دفاع وکړئ. خو الله د هغه صــبر ته داسي غيبي مرســته وکړه: "قُلْنَا يَٰنَارُ كُونِى بَرْدًا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ"
ژباړه: موږ اورته وويل چي پر ابراهيم باندي معتديل يخ سه.
– دا هغـه ځـانګړې لحظـه وه چيري چي عمليـاتی جريـان (پراســيس) بند ســو، او الله مســتقيماً مداخله وکړه ، ځکه چي صبر خپل حد ته رسيدلی و.

۵/۲/۳. د اولاد لپاره دعا، او د اوږده انتظار صبر.

ابراهیم علیه‌السلام د زوی لرولو لپاره دعا وکړه:
"رَبِّ هَبْ لِى مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ"
ژباړه: زما پروردګاره ماتـه صـــالحان نصــيب کړه دا دعا قبوله ســوه وروســته اســماعيل علیه‌الســلام ورکړل ســو، خو دا

دعا د انتظار، یقین، او دعا صــبر ته اړتیا لرله، چې په ۱۲۰ کلنۍ کې الله ﷻ د بل زوی اســحاق او یعقوب لمسيـ ورکولو اراده و فرمایل او زیری یې ورکړ چې دده د صـــبر نتیجه وه. او د اولاد د پیداکیدو پراسیس یعني صبر شروع سو.

۵/۲/۴. د زوی قرباني ، د اطاعت او یقین لوړه مرتبه.

کله چې زوی یې لوی ســو، الله امر وکړ: "إِنِّيٓ أَرَىٰ فِي ٱلْمَنَامِ أَنِّيٓ أَذْبَحُكَ..."

ژباړه: ما خوب لیدلی چې تا حلالوم..

اســماعیل علیه‌الســلام هم دا امر ومنلو: "يَـٰٓـــأَبَتِ ٱفْعَلْ مَا تُؤْمَرُ...

ژباړه: پلاره څه چې امر سوئ دی عملی یې کړه....

او دواړه صابر وګرځېدل: "فَلَمَّآ أَسْلَمَا وَتَلَّهُۥ لِلْجَبِينِ"

ژباړه: کله چې دواړه تسلیم سوه ، د اسماعیل ع تندی یې پر مځکه کښېښود.

الله ﷻ دا امتحان هم له مداخلې سره بدل کړ: "وَفَدَيْنَـٰهُ بِذِبْحٍ عَظِيمٍ"

ژباړه: ما لویه ذبح دده لپاره تحفه کړه.

۵/۲/۵. د کعبې جوړونه ، د عبادت او د صبر یو فزیکي عملیاتي جریان (پراسیس).

"وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَٰهِـۧمُ ٱلْقَوَاعِدَ مِنَ ٱلْبَيْتِ وَإِسْمَـٰعِيلُ..."

ژبــاړه : کلــه چې ابراهیم د بیــت الله دیوالونــه پورت کول اسماعیل....

– د کعبې جوړونه د زحمت، کار، او خدمت پوره بیلګه وه.

– دلته هم دعا او صبر سره مل و: "رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا"

ژباړه : زموږ پر وردګاره راځخه قبول يې کړه...

۵/۲/۶. پايله – د صبر، يقين، او اطاعت امام.

"وَإِذِ ٱبْتَلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَـٰتٍۢ فَأَتَمَّهُنَّ ۖ قَالَ إِنِّى جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًۭا"
ژباړه:: کله چي ابراهيم امتحانات تير کړه، ورته وويل ســوه چي زه تا د خلکو پيشوا ټاکم.
– الله ﷻ ابراهيم عليه‌السلام د صبر له امله امام وګرځاوه.

پايله:

- د ابراهيم عليه‌الســـلام صـــبر نه يوازي دعوت وو ، بلکي عقيده، عمل، هجرت، عبادت، او کورنۍ ټولې ساحې يې پوښلې وی.
- هر قدم يې د الهي امتحان، د عملياتي جريان (پراســـيس) قبول، او د الله ﷻ پر فيصلې د رضايت نښه وه.

۵/۳. د يعقوب ع او يوسف عليه‌السلام صبر د فتنې، بې‌عدالتۍ او بريا ترمنځ.

يوسف عليه‌السلام د ژوند له لومړيو ورځو واک ته تر رسيدو پورې، د ازموينو، فتنو، او مظالمو سره مخ و، خو د هر پړاو له لارېې «صبر» اختيار کړ. يعقوب ع او هم يوسف ع دواړو د صـبر موازی لاره تعقيب کړه. د کړاونو سره دواړو په مساويانه او موازی ډول د صبرلاره خپله کړي، او و پايلی ته منتظر وه.

۵/۳/۱. د ورونو حسد او څاه ته غورځول.

– یوســـف علیه‌الســـلام ته الله ﷻ په کوچنیتوب کې خوب وښود:
"إِنِّي رَأَيْتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا..."
ژباړه: ما خوب لیدلی چي ۱۱ ستوری، ......"
ورو نه یې پرې حسود سول، او هغه یې څاه ته وغورځاوه:
"فَلَمَّا ذَهَبُواْ بِهِۦ وَأَجْمَعُوٓاْ أَن يَجْعَلُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلْجُبِّ..."
ژباړه : (په دغه شـان ټینګار کولو سره) چي کله یې هغه له ځانه سره بوت، او هغوی ویټیله (فیصله وکړه) چي هغه په یوه تیاره (تاریک) څاه کې واچوي، نو مونږ هغه (یوسف ع) ته وحي وکړه (چي یو وخت به راسي) چي «ته به دوی ته دغه حرکت ور په زړه کړې، دوی به (د خپل کار له نتائجو نه) نا خبره یې.» دا ظلم و، خو یوسف صبر وکړ، هېڅ شکایت یې ونه کړ.

۵/۳/۲. د مصر په بازار کي پلورل کیدل، غلامي او فتنه.

– هغه د غلام په توګه و پلورل ســو، خو هلته یې صــداقت او عزت وساته.
– بیا د مصرـ د عزیز د ښـځي له لوري په فتنه کي واچول ســو، خو تقوا یې اختیار کړه: "قَالَ رَبِّ ٱلسِّجْنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدْعُونَنِيٓ إِلَيْهِ..."
ژباړه: (یوسف) وویل «ای زما ربه ! ددې په خاطر بندي کیدل ما ته ښــه دي، نه چي زه هغه کار وکړم، چي دا خلك یې له مانه غواړي. او که ته د هغو د سیسيـ له مانه دفع نه کړې، نو زه به د هغو په دام کي ونښلم، او په ناپوهانو کي به شامل سم.»

– دا يو غوره مثال دی، چې صبر نه يوازې فزيکې ستونزو ته، بلکې اخلاقي فتنو ته هم اړتيا لري.

۵/۳/۳. بې‌ګناه بندي، د وختونو صبر.

يوسف عليه‌السلام بې‌ګناه زندان ته واچول سو، او هلته کلونه تېر سول: "فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجْنِ بِضْعَ سِنِينَ"
ژباړه: (يوسف) د هغه چا په باب چې ګومان يې ؤ، چې هغه به خوشې سي، هغه ته وويل چې «خپل بادار (حاکم) ته زما يادونه وکړه» خو شيطان هغه داسي په غفلت کې وغورځاوه چې هغه خپل بادار (حاکم) ته د هغه وريادول هېر کړل، او (يوسف) څو کاله په زندان کې پاتې سو.
– خو په همدې بند کې يې خلکو ته دعوت ورکړ، د خوبونو تعبيرېې کاوه، او امېد يې له لاسه ور نه کړ.

۵/۳/۴. و قدرت ته رسيدل – صبر يې د عزت لامل وو.

– کله چې د مصر باچا خوب ولېد، ت يوسف عليه السلام يې يوازينی تعبير کوونکې سو: "قَالَ اجْعَلْنِي عَلَىٰ خَزَآئِنِ ٱلْأَرْضِ..."
ژباړه: (يوسف) وويل « د هيواد خزانې ماته وسپاره، زه ساتونکی هم يم او پوه هم.»
– هغه د مصر وزير سو، او د قحطی پوخت کې يې خلک وژغورل.
– د ورونېو پر وړاندې يې هم انتقام وانخيست، بلکې عفوې ته يې مخه کړه:
"لَا تَثْرِيبَ عَلَيْكُمُ ٱلْيَوْمَ..."

ژباړه : (یوسـف) ځواب ورکړ« نن پر تاسي کومه پړه نسـته ، الله دي تاسي ته بخښنه وکړي، هغه تر ټولو زيات رحم کوونکی دی.»

۵/۳/۵. پایله – صبر د فتح دروازه ده.

– د يوسف عليه‌السلام ژوند دا راښيي چي:

• له فتنې، غلامۍ، زندان، جفاء، او فراق وروسـته عزت، واک، او رحمت راځي.

• دا ټول صبر، تقوا، دعاء، او خلوص ته اړتيا لري يو ژورتعجب دی: "إِنَّهُۥ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُحْسِنِينَ"

ژباړه : هغوی (ټکان وخوړ) ويې ويل، «ايا ته يوسـف يې؟» هغـه وويـل « هو، زه يوسـف يم او دا زماورور دی. الله پر مونږباندي احسـان وکړ. حقيقت دادی که څوك له تقوی او صـبر نه کار واخلي، نو د الله په وړاندي ددغسي نيکو خلکو بدله نه ضايع کيږئ.»– دا د يوسـف عليه‌السلام د ژوند لنډيز دی:

تقوا + صبر = الله ﷻ ته مقرب والی او بريا

د يعقوب ع او يوسف ع د صبر، حوصلې او استقامت مقايسه:

د صـبر او حوصـلې له نظره، يعقوب ع او يوسـف ع دواړه د قران له نظره د صـبر لوړی مرتبې لري. خو د دوی صـبر په مختليفو حالاتوکي څرګند سـوئ دی په لاندي شـکل دواړه شخصيتونه مقايسه کوو.

لمړی:

• يعقوب ع د صابر، د خلګو پیشوا (لاربشود) او د الله ﷻ د خلیل ابراهیم ع لمسي دی.
• يعقوب ع ته الله ﷻ د یوسف ع په باب وحی نه وه کړي. او د نامعلوم شرنوشت سره مخ وو.
• یعقوب ع د زامنو د ظاهري نا انصافی تحمل ، صبر او زغمل.
• یعقوب ع د یوسف ع د لېدو په ارزو او غم يې د سترګو د لېدلو توان د لاسه ورکړ.
• یعقوب ع صرف یوه لاره انتخاب کړي وه چي صبر جمیل وو.
• یعقوب ع د دوو زامنو (یوسف ع ورکیدل او بنیامین) د یوه معین وخت لپاره ځني جلاکیدل سخت متأثر کونکي وو، خو بیا يې هم د صبر جمیل لاره غوره بلل.
• د یعقوب ع د ژوند اخری کلونه په مصر کي تیر سول.
• د یعقوب ع سترګی د یوسف ع لخوا په ور استول سوي کمیس سره بیله ځنډه د اللهﷻ دکن فیکون پر بنسټ لېدونکي سوي.

دو هم:

• یوسف ع د صابر ، د خلګو پیشوا (لاربشود) د اللهﷻ د خلیل ابراهیم ع کړ وسي دی.
• د یوسف ع او یعقوب ع د صبر اغاز همزمانه وو.
• د یوسف ع او یعقوب ع د صبر او عملیاتي جریان (پراسیس) مرحله هم همزمانه و اکمال ته ورسیده.

• یوســـف ع د ورونږو لـه بغـاوت سره مـل وو، اوکوهی تـه وغورځول سو.
• د یوسف ع سره د زلیخا فتنه او د هغی زور.
• د یوســـف ع بی ګنـاه بنـدي کیـدل او د کلونو لپـاره پر بندي کید لو صبرکول.
• یوسف ع د الله ﷻ څخه پرته بل چا ته شکایت نه کول او تل شکر ایستونکي وو.
• یوسف ع ته الله ﷻ وحي وکړه چي ته به ستا د ورونږو ظلم ددوی و مخ ته کښیږدې.
• یو ســـف ع د خپل راتلونکي په پاب مطمئن وو. ځکه دی د خپل خوب و تعبیر ته منتظر وو.
• یوســـف ع تـه د مصرـــ د عزیز (وزارت) تر مقـامـه پوري درسیدو عملیاتي جریان (پراسیس) فعال سو.
• یوسف ع ته شخصیت ورکول ، د مصر و حکومتی نظام ته د معرفت پړاونه یعني (په مصرـکي د وزارت یا د مصرـد عزیز و مقام ته رسیدل) د اللهﷻ د ارادی تحقق وو.
• د یوســـف ع مقام د ورونږو په مخ کي، چي د هغه ورونږه د یوسـف د ژوند د بقا تصـور هم نه سـوای کولای د تعجب وړ وو، ورونږه یې عاجز ســـول او پر خپل کړي ظلم پښـــیمانه او پر خپله نا پوهي او جهالت باندي یې اقرار وکړ. او یوسف ع انتقام ترې وانه خیست او بخښنه یې ورته وکړه.
• د یوســـف ع د ژوند د زلمیتوب لمړني کلونه په مصرـــ کي شروع سول.
د یعقوب علیه السلام د صبر په اړه قرآن کریم څو ځایه خبري کوي، په ځانګړي ډول د هغه د زوی یوســف علیه الســلام له

ورکیدو سره تړاو لري. دلته څو مهم آیتونه دي چې د یعقوب علیه السلام د صبر ښکاره مثالونه پکې ذکر سوي:

"فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ. "

ژباړه: نو ښه صبر به وکړم، (او په ښه شان به يې وکړم). کومه خبره چې تاسي غوټه کوئ، (پرهغې باندي) دهغه الله ﷻ نه مرسته غوښتل کیدای سي.

یعقوب علیه السلام دا خبري هغه وخت وکړې چې زامنو ورته دروغ وویل چې یوسف علیه السلام یو لیوه خوړلئ دی. دا آیت د "صبر جمیل" ښکلی مثال دی ، داسي صبر چې شکایت پکښې نه وي، یوازي الله ﷻ ته مخ اړول وي.

"قَالَ بَلْ سَوَّلَتْ لَكُمْ أَنفُسُكُمْ أَمْرًا ۖ فَصَبْرٌ جَمِيلٌ ۖ عَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَنِي بِهِمْ جَمِيعًا ۚ إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ. "

ژباړه: ويې ویل: نه، ستاسو نفسونه تاسو ته یو کار ښایسته کړي، نو زه به ښکلی صبر کوم. کیدای شي الله ﷻ دوی ټول بېرته ماته راولي، بېشکه چې هغه ښه پوه، حکمت والا دی.

دا آیت هغه وخت نازل سوئ چې یعقوب علیه السلام یوسف ع او بیا بنیامین هم له لاسه ورکړ.

صبر جمیل څشی ته ویل کیږي؟

"صبر جمیل" یو قرآني اصطلاح ده چې ژور او ځانګړی مفهوم لري. دا اصطلاح په سورة یوسف، آیت ۱۸ کې د یعقوب علیه السلام له خولې ذکر سوې:

فَصَبْرٌ جَمِيلٌ« صبر جمیل »داسي صبر ته ویل کیږي:

- چې شکایت پکښې نه وي: داسي صبر چې انسان له رب العلمین څخه پرته بل چاته شکایت نه کوي.

• د زړه صبر وي، نه ظاهري: انسان ظاهراً هم ارام وي او په زړه هم الله ﷻ ته تسليم وي.
• بې‌صبرى، زارى او ژړا پکښې نه وي: دا صبر پوره وقار او تسليمۍ سره وي، پرته له دې چي انسان ځان ته تاوان ورسوي يا ناارامه سي.
• پر الله ﷻ باندي د باور سره مل وي: صبر جميل هغه دى چي انسان په دى پوه وي چي هر څه د الله ﷻ په حکمت ترسره کيږي، او هغه به بهترينه پايله راولي.

د مفسرينو نظرونه:

• ابن کثير وايي: صبر جميل هغه دى چي هېڅ شکايت پکښې نه وي، نه د خلکو سره او نه هم په ژبه.
• امام قرطبي وايي: دا د انبياوو او صالحينو ځانګړنه ده، ځکه هغوى تل الله ﷻ ته پناه وړي او خلک نه ستړي کوي.
• مؤلف وايي: يعقوب ع تقريباً څلويښت کاله د يوسف ع په فراق کي تيرکړل.

تشريح: د الله ﷻ سنت دى چي پيغمبر په ۴۰ کلنى کي مبعوث کوي، اوتقريباً د ۸ کالو وو چي په کوهى کي وغورځول سو. نو ۳۲کلونه وخت يې و نيوى چي پيغمبر سو، ۷ کاله د مصر عزيز وواو ممکن په لمړى کال د قحطۍ په جريان کي د ورونو سره ملاقى سو.
نو : ۳۲+ ۷+ ۱= ۴۰
زما په اند تقريباً څلويښت کاله د پلار څخه ورک وو.

۵/۴. د ایوب علیه‌السلام صبر د جسمي، مالي، او کورنۍ ابتلاء په وړاندي.

ایوب علیه‌السلام د صبر یو داسي شان او مقام لري، چي الله ﷻ یې د نوم ترڅنګ "صابر" صفت ذکر کړئ دی. هغه د داسي سترو ازموینو سره مخ و، چي ډېری انسانان یې نه سي زغملای، خو هغه تل د الله ﷻ رضا ته تسلیم و.

۵/۴/۱. د نعمتونو دوره، او ناڅاپي ازمویني.

– ایوب علیه‌السلام مال، اولاد، او صحت درلود. خو دا ټول نعمتونه الله ﷻ ترې واخیستل:

- ټول مال یې له لاسه ورکړ.
- اولادونه یې وفات سول.
- روغتیا یې خرابه سوه، حتی بدن یې له ناروغیو ډک سو، خو ایوب علیه‌السلام هېڅکله شکایت ونه کړ، بلکي یوازي صبر یې کاوه.

۵/۴/۲. د دعا او عاجزۍ مرحله.

کله چي صبر یې کامل سو، نو الله ﷻ ته یې عاجزانه دعا وکړه:
"وَأَيُّوبَ إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّى مَسَّنِىَ ٱلضُّرُّ وَأَنتَ أَرْحَمُ ٱلرَّٰحِمِينَ"
ژباړه : او (یاد کړه) ایوب، کله چي یې خپل رب ته فریاد وکړ، چي زه له سختۍ سره مخ سوئ یم، او ته تر ټولو زیات رحم کوونکي یې.
– ایوب علیه السلام نه وویل چي "زه شفا غواړم" ، بلکي یوازي یې د الله رحمت ته اشاره وکړه.

۵/۴/۳. الهي مداخله، او د شفا مرحله.

اللهﷻ د هغه دعا قبوله کړه:
"فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ فَكَشَفْنَا مَا بِهِۦ مِن ضُرٍّ..."
ژباړه : موږ ستا دعا قبوله کړه، مشکلات درځخه ليري سوه.....
او ورته وويل سوه:
"ٱرْكُضْ بِرِجْلِكَ ۖ هَـٰذَا مُغْتَسَلٌۢ بَارِدٌ وَشَرَابٌ"
ژباړه : پښه ووهه، دا د يخو اوبو غسل او څښاک دي.
– د ايوب عليه السلام بد ن پاک شو، روغتيا ورکړل سوه، او اللهﷻ ورته د هغه له لاسه وتلی نعمتونه بيا ورکړل:
"وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ"
ژباړه : کورنۍ مو بيرته ورکړه او د هغه په اندازه مو نور هم ورکړه......

۵/۴/۴. د صبر د مقام تصديق.

اللهﷻ د ايوب عليه‌السلام د صبر ستاينه وکړه:
"إِنَّا وَجَدْنَاهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ إِنَّهُ أَوَّابٌ "
ژبا ړه : بيشــکه موږ هغه صــابر پيدا کړو؛ څه ښــه بنده و، بيشکه هغه (اللهﷻ) ته ډېر رجوع کوونکي و.
پايله: د مطلق تسليمۍ او صبر سمبول.

- ايوب عليه السـلام هيڅ شـکايت ونه کړ، بلکي اللهﷻ ته يې رجوع وکړه.
- د هغه صـبر يوازي تحمل نه و، بلکي يقين، دعا، تسـليم، او اميد و.

• دا صبر د جسمي درد، مالي تاوان، کورني غم او ټولنيز انزوا په وړاندي و ، او دا د انسا ني صبر تر ټولو بشپړ شکل ګڼل کيږي.

۵/۵. محمد ﷺ د مکلفيت، هجرت، جهاد، او د امت لپاره صبر.

محمد ﷺ د رسالت له پيل نه تر وفات پوري د هر ډول اذيت، جفا، مخالفت، اقتصادي بنديز، بد نامۍ، فزيکي حملو، هجرت، جهاد، شهيدانو، او امت درد سره مخ سو، خو د صبر، حلم، او دعاء له لاره يې تېر کړ.

۵/۵/۱. د دعوت لومړنۍ کلونه، پر لفظی آزارو صبر.

– رسول الله ﷺ چي دعوت پيل کړ، کفارو ورباندې د ساحر، شاعر، ليوني، دروغجن او د نورو تهمتونو باران وکړ: "وَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا"
ژباړه : د هغوی د خبرو پر وړاندې صبر وکړه، او په ښکلې توګه يې پرېږده.

۵/۵/۲. د طائف واقعه، پر فزيکي اذيت صبر.

– کله چي رسول الله ﷺ طائف ته ولاړئ خلګو په ډبرو وويشتئ، تر دې چي تر بدن يېويني و بهيدلې.

خو دعا يې وکړه، نه انتقام:
"اللهم اغفر لقومي فإنهم لا يعلمون"
ژباړه : اې الله! زما قوم وبخښه، ځکه چي هغوی نه پوهيږي.

۵/۵/۳. د شعب ابی طالب محاصره، پر اقتصادي سختیو صبر.

– د قریشو له لوري درې کلنه محاصره وسوه، حتی خوراک یې نه درلود.« "وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ..."
ژباړه : صبر وکړه! او ستا صبر به یوازي د الله ﷻ په مرسته وي.

۵/۵/۴. د هجرت او مدینې جهادونه ،د امت ژغورنې لپاره صبر.

– هجرت د ټولنیز ترک او وطني فراق مثال و.
– په بدر، احد، خندق، حُدیبیه، او تبوک کې د قربانیو او شهیدانویه ورکول ، او فتنو له پېښېدو سره سره یې صبر وکړ، تر څو اسلام غالب سو.

۵/۵/۵. د امت لپاره دعا، ژړا، او صبر.

– رسول الله ﷺ به د خپل امت لپاره په شپو شپو ژړل: او "أمتي، أمتي ..." په نارو سر وو
الله ﷻ جلاله ورته وویل: "وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ"
ژباړه : اوبېشکه ته دلوړو اخلاقو مرتبه لرې.هغه د امت بد عملونه زغمل، صبرېې کاوه، او هیڅکله یې خپله دعا پرې نه ښو ول.

۵/۵/۶. د فتح مکه ورځ ، د عفوه صبر.

– کله چې د رسول الله ﷺ بریالیتوب په برخه سو ، هغه ټول کفار معاف کړل: "اذهبوا فأنتم الطلقاء"

ژباړه : ولاړ سئ، تاسي ټول آزاد یاســت. دا د فتحي په ورځ، د صبر، حلم، او رحمت تر ټولو لوړه مرتبه وه.

پایله : رسول الله ﷺ:د کمال صبر نمونه ده.

• د "قول، فعل، هجرت، مشــقت، جهاد، عفوي، حلم، او دعا" په کولو یې صبر عملي کړ.

• قرآن کریم د هغه دا کړني "اسوة حسنه" وبللې.

"لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ..."

ژباړه : په حقیقت کې ستاسي لپاره د اللهﷻ په پیغمبرﷺ کې ، د نیکي یوه خورا غوره نمونــه وه، دهر هغــه چــا لپــاره چي د اللهﷻ او د اخرت د ورځې هیله من وي او هغوی اللهﷻ ډېر یادوی.

د پنځم فصل عمومي نتیجه:

• صبر د انبیاوو په ژوند کې یوازې یو احساس نه و، بلکې عملي ژوند، تصمیم، مشي، ستراتیژي، او د بریا رازو.

• انبیا علیهم‌السلام موږ ته وښودله چي:

• هر ابتلاء یو پراسیس لري.

• اللهﷻتر صـبر وروسـته، یا د عملیاتي جریان (پراسـیس) په اوږدو کې، مدد، مهرباني، او فتح راولي.

۵/۶. د حدیبیې تړون د صبر، تسلیمۍ او ستري بریا تمهید.

دحد یبیې تړون د ظاهراً د عواموخلکو له نقطهء نظره مناسب نه ښکارېده، ځکه انسـانان په راتلونکي نه پوهیږي ، په راتلونکي یوازي الله ســـبحـانـه و تعـالی پوهیږی. نو د اللهﷻ همـداسي

خوښه وه. د دې تړون په نتیجه کې دوه کاله وروسته مکه بیله جنګ څخه فتح سوه. (سبحان اللّٰه)

۵/۶/۱. د ظاهر له مخې امتیاز، خو باطن کې فتح.

کله چې رسول الله ﷺ د عمرې د اداء لپاره له صحابه وو سره حدیبې ته ولاړ، قریشـــو اجازه ورنکړه. بیا د قریشـــو سره تړون وسو، چې د ظاهر له مخې مسلمانانو ته ستونزمن و:

د تړون مهمې برخې:

۱. سږ کال به عمره نه کوئ.
۲. که له مکې څخه څوک مدینې ته پنا یوسي، بیرته به مکې استول کیږي، خو برعکس نه.
۳. دا تړون به لس کلن وي
ظاهراً: دا د مسلمانانو لپاره مایوس کوونکي و.
باطناً: دا د صـبر، سـیاسـت، او حکمت سـتر تصـمیم و "إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا"
ژباړه : بېشکه موږ تا ته یوه ښکاره فتح درکړه.
دا آیت د حدیبې تړون په وخت نازل سو، نه د مکې د فتحې په ورځ. دا ښيي چې "صبر او تسلیم د فتح دروازه ده".

۵/۶/۲. د حدیبیې د تړون په برکت د مکې د فتح عملیاتي جریان (پراسیس) فعال سو.

✓ د سولې له امله د اسلام دعوت پرته له خنډه خپور سو.
✓ د خلکو فکري آزادي زیاته سوه، ډېرو خلکو اسلام ومانه.

✓ کله چي قریشـو تړون مات کړ، رسـول الله ﷺ ته د جګړې پرته د مکې د فتحې زمینه برابره او د صـــبر په پایله کې مکه فتح سوه.

د حـدیبیې تړون د مکې د قریشــــو لخوا نقض ســـو او پیغمبر ﷺ تـه د تړون د محتویـاتو پر بنســــټ اجـازه ورکول سوله چي اجراآت وکړي. او پیِغمبر ﷺ دوه کاله صبرکړي وو. په ښکلی صبر سره الله ﷻ ښکلی مکافات ورته نصیب کړل.

۵/۶/۳. د حدیبیې تړون او د صبر ستر تمرین.

✓ صحابه کرامو ته دا سخت و چي له عمرې محروم سي، خو صبرېې وکړ.

✓ عمر رضی‌الله عنه د زړه له دردە اعتراض وکړ، خو کله چي پوه سو، چی دا د الله ﷻ حکمت دی، تسلیم سو.

✓ رسـول الله ﷺ د ټولو احسـاسـاتي فشـارونو باوجود، ثابت قدم، صبور، او هوښیار پاتي سو.

پایله:

د حدیبیې تړون موږ ته را ښـیي چي: و هدف ته د رســیدو هره مرحله، د عملیاتي جریان (پراســیس) یوه برخه ده، او صـــبر د دې پراســیس محافظت کوي، د ظاهري بایللو تر شـــا، د الهي تدبیرونو ستري برياوي پټي وې.

۶. د صبر روحاني، اجتماعي او علمي تاثیرات.

د حدیبیې د تړون پایلی ډېري مشکلي او د انسانانو تر فکر وتلي وې، نو په لاندي ډول یې اجتماعي او علمي تا ثیرات بیانیږي:

الله ﷻ و پيغمبر ص ته ارشاد کوي چي د لاندي عواملو له امله د تړون مثبتې اړخونه ورته ښئي:
١. په مکه کې ځنې اوســـيدونکي د کورنيو په پټه مســـلمانان ســـوي وه که جنګ ســـوئ وای ممکن هغه مســـلمانان به مړه سوي وای ، ځکه د هغو ژوند و ژغورل سو.
٢. ممکن په راتلونکي وخت کې د قريشـو ځني خلګ مسـلمانان سي او دوی هم وژغورل سي. په نتيجه کې اجتماعي ســـتونزي د منځه ولاړې په علمی او په روحي لحاظ د مســـلمانانو په نفع تمام سوه

٦/١. د صبر روحاني تاثيرات.

د صبر روحاني تاثيرات په لاندي برخو کې موږ ته څرک په لاس راکوي چي د ژوند بهير په حوصـــله پرمخ بوزو او د متعال رب سره هغه اړيکه وپالو چي زموږ بندګي او د الله ﷻ له خدايي سره اړيکه په قايميږي:

٦/١/١. د الله ﷻ سره اړيکه.

1. صـــبر د انســـان او الله ﷻ ترمنځ د اړيکي پياوړتيا تـه لار هواروي.
2. کله چي انســان د ســختو حالاتو سره مخ سي ، او د الله ﷻ رضـــا ته تســـليم سي، هغه په دې توګه د خپل ايمان کچه لوړه کړي، او الله ﷻ ته نږدې کيږي. "وَٱصْبِرُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلصَّـٰبِرِينَ" ژباړه : او صبر وکړئ، بېشکه الله ﷻ د صابرو ملګری دی.

۶/۱/۲. د روح ارامښت.

صبر انسان ته د صبر او سکون هغه داخلي حالت برابروي چي د ژوند هر ډول فشـــارونه او مشـــکلات له منځه وړي. صـــبر انســـان تـه د اللهﷻ د تـقـدیـر پـه راضي کـیـدو، او د هغه په حکمت او باور کولو سره سکون او ارامي راولي.

۶/۱/۳. په دین کي ثبات.

صبر د د یني ژوند د ثبات اساس دی. کله چي انسان په ژوند کي د مشـکلاتو سره مخ سي، صـبر هغه ته قوت ورکوي، تر څو خپل ځان د ین له تزلزل څخه وژغوري. د صبر نتیجه د انسان په ایمان کي قوي پاتي کیږي، او د اللهﷻ د رضـایت د ترلاسـه کولو په لور یې رهبري کوي.

۶/۲. د صبر اجتماعي تاثیرات.

صبر پر انسان او د هغه پر کرکټر چاپیر نه دی ، په فردي ډول د صـبر پلي کول نه یوازي د انسـان په کړو وړو او حوصـله کي تغیر راولي، انســـان کلکوي بلکي د هغه د کړو وړو تاثیر په ټولنه کي هم اغیز لري او د ټولني خلګ یې له حسن خلق څخه متاثره کیږي

۶/۲/۱. د ټولني همبستګي.

د صـبر تمرین کول، د ټولني د غړو ترمنځ همبسـتګي رامنځته کوي. کله چي افراد یو بل ته د مشکلاتو په وخت کي صبر ښیي، دوی د یو بل سره مرسـته کوي، او د ګډو سـترو هد فونو لپاره هڅي کوي.د محمد ﷺ د ژوند یوه یې ســـاره بیلګه ده چي:

څنګه د صبر په مرسته يو ټولنه له هر ډول آزموينو او فشارونو تېرېږي، او په نهايت کې برياليتوب ته رسيږي.

۶/۲/۲. د اجتماعي ظلم سره مبارزه.

– کله چې يو ټولنه د ظلم او فســاد سره مخ سي، صــبر د هغه ټولنې لپاره يوه مهمه وســيله ده ترڅو وګړي يې د ظلم په وړاند مقاومت وکړي.
د صـــبر له لاري ټولنې ته داسي ځواک ورکول کيږي چې د غير مشرــوع حکومته سره مقابله وکړي، لکه څنګه چې د موسي عليه السلام د قوم د ظلم په وړاندي، صبر يو د مثال دی.

۶/۲/۳. د اخوت او د سولي پراختيا.

– د صــبر په وســيله، خلک په خپلو منځونو کې د ښــېګڼې او ســولي ارزښــت درک کوي. دوی د دې لاري د يو بل دپاره رحم او همدردي څرګندوي، چې دا په ټولنه کې د اخوت او ســـولي و پراختيا ته، وده ورکوي.

۶/۳. د صبر علمي تاثيرات.

د غيرپوهانو په پرتله صــبر په پوهانو کې ډير تاثيرات ښــندي ، هغوی د صبر د مفهوم پر خای د هغه د افادې او پلی کولو او د صبر په تطبيق ډير ښـه پوهيږي ، خو دا په دې په معني نه چې کم علمه کسان د صبر په ماهيت نه پوهيږي دلته يوازي د صبر د انډول خبره ده ، صــبر دی چې په دغه دواړو حالاتو د انســان ذهني قوت ته زياتوب وربخښي .

۶/۳/۱. د ذهني قوت زیاتوالی.

– صبر انسان ته داسي ذهني قوت ورکوي چي هغه د مشکلاتو په وړاندي د قوت او کنټرول احساس وکړي.
– د صبر له لاري، انسان زده کوي، چي څنګه د خپل ذهن او احساساتو په اړه معقول تصمیمونه ونیسي، او په دې سره په علمي او عملي ژوند کي، د پرمختګ لپاره امکانات رامنځته کوي.

۶/۳/۲. د علمي پرمختګ لپاره تسلسل.

صبر د علمي پرمختګ دپاره یو مهم عامل دی. د علمي څېړنو او پرمختګونو په لاره کي، انسان ته صبر ضروري دی، تر څو د مشکلاتو او ناکامیو باوجود و خپلو هڅو ته دوام ورکړي، تر څو مطلوبو هدفونو ته ورسیږي. د صبر له لاري انسان پوهیږي چي هر ډول علمي پراختیا او نوښت ، یوازي د وخت، تکرار او له ستونزو تېرېدو په نتیجه کي ممکن دی.

۶/۳/۳. د ستونزو د حلولو مهارت.

د صبر په پراختیا سره، انسان کولای سي چي د خپلو ستونزو په حل کي ډېر مؤثرتمام سي. هغه د هري مشکلي مسئلی د حلولو لپاره اوږدمهاله ستراتیژۍ جوړوي او د اوږد مهاله فکر کولو توان لري.

۶/۴. نتیجه‌ګیری:

د صبر روحاني، اجتماعي او علمي تاثیرات نه یوازي په فردي ژوند کي مهم دي، بلکي وټولني او و انسانیت ته په پراخه پیمانه

مثبت بدلونونه رامنځته کوي. دا یو داسي ارزښـــت دی چي انسان ته د یوه متوازن او پیاوړي ژوند لپاره بنسټیز اصول ټاکي، چي د الله ﷻرضـــا تـه ژمن پانـه سي، د ټولني په پرمختګ کي مرســـته کوي او د علمي پرمختګ په لاره کي بې دریغه زحمت ګاللئ وي.

۷. پایله او د صبر اهمیت.

د صـــبر اهمیت د ژوند په هره لحظه کي خاص مقام او ځای لري. کـه و ټولني تـه خیر ســـو، د هیوادو ترمنځ مناقشـــو او منازعاتو ته د دیپلوماسي لاری هواروی، چي دغه دیپلوماسي و وخت او پراسـیس ته اړتیا لري. د صـبر اصـول مراعات کیږي او نتائجیې مؤثري او ښې وي.

۷/۱. د صبر نه ختمېدونکي ځواک.

د صـــبر اهمیت په قرآن کریم، حدیث، او د انبیاوو په ژوند کي ډېر څرګند دی. صبر نه یوازي د یو فرد د شخصیت پیاوړتیا ته لاره هواروي، بلکي هغـه ټولنیزي، روحـاني او علمي بڼې هم رامنځته کوي چي په ژوند کي تر ټولو ستره بریا ته د رسیدو لپاره اړین دي. د صـبر فلسـفي موږ ته دا ښـوولي چي: صـبر یوازي د صـبر کولو په معني نه دی؛ بلکي دا ده اللهﷻ د حکمت، تقدیر، او ارادې په وړاندي د تسـلیمۍ یوه لاره ده. صـبر د انسـان ذهن او زړه ته سکون ورکوي او هغه ته د اللهﷻ و رضا ته د رسـیدو لاره ښـــي. صـــبر د ژوند په هره مرحله کي، که هغه فردي ســـتونزي وي، که اجتماعي کړکیچونه وي، یا علمي هڅي وي، انسان ته ځواک ورکوي ترڅو له فشارونو او مشکلاتو باوجود د خپل هدف په لور روان پاتي سي.

۷/۲. د صبر په پایله کي د کامیابۍ تر لاسه کول.

د انبیاوو ژوند موږ ته یوه ډېر واضـح درس دی چي صـبر هر ځل موږ و یوې ښې پایلې ته رسـولای سي. د نوح علیه السـلام د کیسیــ څخـه تر محمـد ﷺ پورې، ټول انبیـاء د مختلفو مشکلاتو او چلنجونو سره مخ سوي، خو د دوی صبر نه یوازي د دوی د ځان لپاره، بلکي د امتونو لپاره هم بریا او کامیابي راوړې ده. موسي علیه‌السـلام په ژوند کي د صبر اهمیت وښودله چي کله انســان د لوی ظالم سره مخ سي، نو صـبر د هغه لپاره یوه لاره ده چي د ظلم لـه منځـه وړلو لپاره ســتره مبارزه وکړي. همدارنګه، د محمد ﷺ د ژوند په مثال سره ، صبر موږ ته دا را ښــيي چي کله د خلکو مخالفت او بې رحمي د انســان په مخکي وي، په داسي وخت کي هم انســان باېد خپل هدف ته وفادار پاته سي ، او د الله ﷻ د مرستي څخه نا امېد نه سي.

۷/۳. د صبر پایلې.

صــبر د هر ډول مشــکلاتو په وړانـدي موږ تـه د طـاقـت، سـتراتیژۍ، او د کړنلارو پراختیا راکوي. په قرآن کریم او احادیثو کي د صبر بې شمېره مثالونه شته چي موږ ته د الله ﷻ په تقدیر ، د رضا کولو او په مشکلاتو کي د ثابت قدمۍ درس را کوي. کله چي انسان په سخته مرحله کي د الله ﷻ رضا ته تسلیم سي، نو د هغې مرحلې وروسته د رحمت او لورېني دروازه ورته پرانستل کیږي.

۷/۴. د صبر لپاره عملي لارښوونې.

- د ایماني قوت تقویه کول: صــبر د ایمان په تقویه کولو او د الله ﷻ په حکمونو باور کولو سره تړلی دی.

• د دعا کولو عادت: کله چي انسان له ستونزو سره مخ سي، باید د الله ﷻ ښخه مرسته وغواړي او په صبر سره له هغه ځواب ترلاسه کړي.
• د اجتماعي ملاتړ استعمال: صبر یوازي فردي عمل نه دی، دا د ټولني ملاتړ، مشورې، او یارۍ ته اړتیا لري، چي باید سرته ورسیږي.

۷/۵. پایله:دصبرد فلسفې ټولواړخونو ته ژوره پوهه.

په پای کي، صبر نه یوازي یو ساده حالت دی، بلکي د ژوند یوه پیچلې او ژوره فلسفه ده ، چي د هر انسان ژوند ته هدف، معني، او قوت ورکوي. د صبر سره، انسان نه یوازي د فزیکي او ذهني خنډونو سره مقابله کولای سي، بلکي د خپل روحاني او اجتماعي ژوند په پراختیا کي هم مرسته کوي.
که یو انسان د ژوند په هره مرحله کي صبر وکړي، نو هغه په پای کي د الله ﷻ په رضا او رحمت کي له هر ډول بریا ښخه برخمن کیږي.

وروستۍ خبره:

د صبر په فلسفه کي د انسان د روحاني، علمي، او اجتماعي پرمختګ ټول اړخونه راټول سوي او دا موږ ته ښوول سوي چي څنګه صبر نه یوازي د فرد له ژوند ښخه ،بلکي د ټوله ټولني او امت دپراختیا د پاره هم د بریا لاره ده.

یادونه : انسان اشتباهات کوي، که چیری هر ډول قلمی اشتباه واقع سوئ وي، اصلاح يې په راتلونکي حتماً تر سره

کیږي. د اوس لپاره بخښته را ته وکړي. ممنون مو یم. په
درنښت
ومن الله توفیق
حلیمي

د لیکوال لنډه پېژندنه:

د ۱۴۰۰-۱۳۰۰لمریزو کلنو په شــل، دیرش، څلویښـــت او پنځوس لسیزو کې د کندهار ښار څلورمې ناحیې د بامیزو، یا زړه د کاکړو اخندزاده ګانو کوڅه او یا زړه ده خواجه، هغه سیمه یا کوڅه وه چې د افغانســتان د فرهنګ د ځانګو په نامه یادېدله، علت یې داوو چې د «اســتادکل بلاد احمد شــاهي ملامحمد ســلیمان ، ملافیض الله مســمی په ملابابړ، مولوی حبیب الله مشــهور به (فاضـل کندهاری) او قاضی عبدالصـمد کاکړو» د کورنیو څخه راکښــته د هیواد د نورو ســترو شــخصـیتونو« ملا محمد شــعیب، ملا عبدالشــکور، ملا عبدالســلام،ملا محمد صـــادق، ملا فیض الحق ، ۲تنو عبـدالواســـع نـامو، ۲تنو عبدالرحیم نامو، ۲ تنو عبدالخالق نامو، عبدالحق اخندزاده، زین العـابیـدین اخنـدزاده ، مولنا محمـد شریف حبیبي، ډاکټر عبدالغفار کاکړ، قومندان محمد اکبرخان، ملا او خطیب ملا عبـدالاحـد غریبک، حـاجي عبـداللطیف حقـاني، غلام جیلاني جلیس، ملامشـــک، ډاکټر عبدالرازق پالوال، عبدالباري جهاني او.. »شخصیتونو د زوکړې روزنې او رالویېدنې کوڅه پاته سوې ده .

همـدغو مرحومو او ژونـدیو اســـلافو تـه په کتو ددې کتـاب لیکوال هم ددې لړۍ له کړیو څخه یوه کړۍ ښـــاغلی حاجی عبـدالحکیم «حلیمی» د مرحوم حـاجي عبـدالحلیم اخنـدزاده زوی دي په (۱۳۳۰)لمریز کال په همدې کوڅه کې زوکړۍ ، په ټبر حمزه زی، ادازی کاکړ دی.

مېنـه: د کورنۍ نیکونو «ملاعبـدالله، ملا عبـدالوهـاب او اســتادکل بلاد احمد شــاهی ملا محمد ســلیمان اخندزاده کاکړ»

يې د کاکړو خراســـان له مېنځترڅخه بوري او له بوري څخه کندهار ته کوچ راکړئ د میرویس نیکه له پاڅونه تر دې دمه یې پلارنۍ مینه د کندهار ښـــار په اوســـنۍ څلرمه ناحیه دوهمه بامیزو کوڅه د زړې جامع کوڅه ده ، دا مېنه په تاریخ حســيني کې د « ده خواجه کهنه»په نوم یاده ســـوې ده . د دې کورنۍ اســـلاف یې له راتګه بیا تر ۱۳۳۶ل کال پوري د زړې جامع خطباء تیر سوي دي.

دینی زده کړي: دیني مروجو علوم یې کندهار ښـــار د زړې جامع په مدرســـه او د قران کریم قرائت او تجوید یې د خپل وخت پر مشـهور قاري عبدالحمید مشـهور په «قاري مصري» ویلئ دی.

رســـمي زده کړي: په (۱۳۴۸) لمریز کال د کندهار ښـــار د احمدشـــاه بابا لېسې_ له ۱۲ ســـم تولګۍ فارغ ســـوئ دی. په (۱۳۵۰) لمریز کال د عمومي کانکور له لاري د کابل پوهنتون (اقتصـاد پوهنځی) د (صـنعت او تجارت دیپارټمنټ) ته د لوړو زده د تر لاســـه کولو په خاطر لار پیدا کړې او په (۱۳۵۴) لمریز کال له ذکر سوي ریشتي څخه فارغ سوئ دی.

د هیوادني خدمت لپاره په (۱۳۵۵) لمریزکال د (۶) میاشـــتو کورس څخه د «ظابط احتیاط» په رتبه فارغ سو.

دندي :

په همدې(۱۳۵۵) لمریز کاال د (افغانســـتان بانک) د خارجي ارتبـاط د څـانګي غړی او د (۱۳۵۶) لمریز کال پـه اخیر کې د (شرکت کود کیمیاوي) د محاسبې د څانګي غړی سو.

درانه حلیمي صـاحب پر دې بســنه ونه کړه ، د هیواد د ځوان نسل د روزنۍ په موخه یې د کندهار ښار د اوړو منډی په څنګ

کې د « افغان ســنټر» په نوم دانګلیسيــ ژبې کورس په همدې ۱۳۵۶لمریز کال کې تاسیس کړ.
تر دوو کلونو وروســـته کابل ته تبدیل او هلته یې خپله دنده مخې ته یووړه. دا مهال چې هیواد د شــوروي ســوســیالیســتي اتحاد د اســـتعماري کړنو په پلان کې د سره پوځ لخوا اشـــغال ســـوئ وو، نوموړی هم له هیواده د نورو هیوادوالو غونډي هجرت ته اړ ســـو. په ۱۳۶۰لمریز کال له هیواده مهاجر او په پېښــــور کې یې خپل ژوند ته دوام ورکړ، په ۱۹۹۰ میلادي کال چې له ۱۳۶۹لمریز کال سره یې ســـمون درلود د امریکا متحده ایالاتو و نیویارک ایالت ته مهاجر سو چې تر اوسه هلته اوسي.
نوموړئ په اماتور ډول کله ناکله د خپلې خوښې لیکنې کوي، د لیکنو بنه یې دیني او یا دده پخپل ریشتوي مسلک اقتصاد پورې متعلقه وي.
په چاپي بڼه د ا د «صــبر» په نوم د ښــاغلي حلیمي لمړی اثر دی، دده د نورو پنځوونو په هیله .

په مینه

ن قران مل

غریبک کتابتون کندهار

۱۴۰۴ لمریز کال

دلوی اختر دریېمه